# د بورسیې پروسه

د دې لپاره چې ډاډه شو د انجنیر غلام‌نقیب رسولي بورسیه وړ کس ته ورکړل شوې، زرغون د بورسیې له اعلان نیولې تر انتخاب پورې پروسه ستاسو سره شریکوي، ترڅو د پروسې له وضاحت او شفافیت مطمئن شئ.

| | لومړنۍ ارزونه |
|---|---|
| 1 | لومړنۍ ارزونې په ټوله کې د اسنادو او غوښتنلیک بشپړتیا ارزوي. په دې پړاو کې موږ لاندې موارد ارزوو:<br>• آیا د بورسیې غوښتونکي د بورسیې معیارونه پوره کړي؟<br>• آیا د بورسیې د غوښتونکي ټول اسناد بشپړ دي؟<br>• هغه غوښتونکي چې پورتني معیارونه پوره نه کړي، په لومړي پړاو کې له پروسې حذف کیږي. |
| | **دویمه ارزونه** |
| 2 | په دغه پړاو کې به د غوښتونکي علمي وړتیا، ساینس ته یې ژمنتیا او لاندې مسائل ارزول کیږي:<br>• د نومرو او تراسنکریپټ ارزونه.<br>• د ساینسي مضامینو د نومرو دقیقه ارزونه.<br>• د خپل ځان او ښوونیز پلان په هکله د (700-500) کلیمې لیکنې ارزونه.<br>• په ساینسي فعالیتونه کې د برخه اخیستو ارزونه، مثلاً په ساینسي ورکشاپونو، سیمینارونو، غونډو کې ګډون. یا په پښتو ژبه د مقالې، رسالې یا کتاب په بڼه ساینسي لیکنې او ژباړې کول.<br>• هغه غوښتونکي چې پورتني معیارونه پوره کړي، ژورې/دقیق ارزونې پړاو ته به شارټ‌لیست کیږي. |
| | **ژوره ارزونه** |
| 3 | په دې پړاو کې به د ټولو شارټ لیست شوو غوښتونکو، پوره او دقیقه ارزونه کیږي، په دې پړاو کې به موږ لاندې موارد ارزوو:<br>• د غوښتونکو علمي وړتیا، شخصیت او ساینس ته یې ژمنیتا به په دقیق ډول څېړل کیږي.<br>• د غوښتونکو مالي وضعیت به په دقیق ډول ارزول کیږي، څکه د بورسیې موخه د هغه کسانو مالي ملاتړ دی چې په ساینس برخه کې د زده‌کړو هیله لري، خو د مالي ستونزو له امله یې نشي کولی. |
| | **د غوراوي پړاو** |
| 4 | په دې پړاو کې د بورسیې ګټونکی ټاکل کیږي او لاندې موارد په پام کې نیسو:<br>• د غوره نوماندانو تشخصیول.<br>• غوره نوماندانو ته نومرې ورکول.<br>• د لوړو نومرو درلودونکي غوښتونکو ټاکل. |
| | **د بورسیې د ګټونکي اعلان** |
| 5 | په دې پړاو کې به غوښتونکو ته د بورسیې د پایلو په هکله خبر ورکول کیږي.<br>• په رسمي شکل به د بورسیې ګټونکی اعلانیږي.<br>• د بورسیې ګټونکي سره به د نورو پړاونو لپاره د برېښنالیک له لارې اړیکه نیول کیږي.<br>• هغه کسان چې نه دي ټاکل شوي، د برېښنالیک له لارې به ورته د نه ټاکلو دلایل وړاندې کیږي. |